پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي(يعنې په اودس مې پښو کړي دي)

له مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو زه ټيټ شوم چې (د اودس پر مهال يې) موزې وباسم، نو ويې فرمايل: « پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي(يعنې په اودس مې پښو کړي دي)» نو مسح يې پرې وکړه.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو سفر کې و چې اودس يې وکړ، نو کله چې پښو وينځلو ته ورسېده، مغيره بن شعبه دواړه لاسونه ور اوږده کړل تر څو د رسول الله صلى الله عليه وسلم له پښو څخه موزې وباسي چې پښې ومينځي! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پرې يې ږده او مه يې باسه، يقينا چې دواړه موزې مې په داسې حال کې پښو کړي دي چې زه په طهارت کې وم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د پښو وينځلو پر ځای په خپلو دواړو موزو مسح وکړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3014